مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ذبیح الله خورشیدی ۲۰۲۴/۰۴/۳۰

# د ازادو بلوڅانو په نښه کول،

## د پاکستان او ایران ګډ تړون

اسلام اباد د درې ورځو لپاره د ایران د ولسمشر ابراهیم رئیسي کوربه و. پاکستان ته د ایران د ولسمشر د سفر هدف د دواړو هیوادونو د دوه اړخیزو اړیکو پراختیا او د هغو مشکلاتو د حل لپاره دی چې د تهران او اسلام آباد په اړیکو کښې د یوځی مداخلي سبب شوی دی. پاکستان په داسي حال کې د ایران د هوایي برید څواب ورکړی، چې سیاسي او اقتصادي وضعیت یې له کړکیچ سره مخ دی. خو وروسته پاکستان په دې پوه شو چې په اوسنیو حالاتو کې باید په سیمه کې له خپلو ګاونډیانو سره په جګړه کې ښکېل نه شي. ټي ټي پي او بلوڅ غورځنګ هغه ګواښونه دي، چې په پاکستان کې یې وېره رامنځته کړې او فعالیتونو یې له ګاونډیانو سره د دغه هېواد اړیکې بې باوره کړې دي. دغه هېواد غواړي له خپلو ګاونډیانو سره تر جګړې مخکې دغه ګواښ راکم کړي.

پاکستان له هند، افغانستان او ایران سره ښې اړیکې نه لري ځکه دغه هېواد په خپله خاوره کې ترهګرۍ ډلې ساتي چې په سیمه کې د دغو هېوادونو د پرمختګ مخه نیسي. له افغانستان سره له جګړې او کړکیچ وروسته بله مهمه قضیه له ایران سره ده. د ایران او پاکستان پر پوله وخت په وخت شخړې رامنځ ته کېږي، خو سږ کال د دواړو هېوادونو ترمنځ هوايي بمبارۍ یوه بې سابقه شخړه وه.

د ایران ولسمشر ابراهیم رییسي اسلام اباد ته د خپل سفر مهم هدف دا ښودلی چې له پاکستان سره مخامخ خبرې وکړي چې په خپله خاوره کې د ترهګرۍ مخه ونیسي او له پاکستان سره همکارۍ ته چمتو دي. په تازه راپورونو کې ویل شوي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ د ترهګرۍ پر وړاندې پر ګډې مبارزې هوکړه شوې ده. خو تر اوسه د دې هوکړې جزیات نه دي ورکړل شوي، نو ګومان کېږي چې له ترهګرۍ سره د مبارزې په برخه کې به د دواړو هېوادونو ترمنځ استخباراتي همکاري وي. اسلام اباد او تهران په مستقیمه جګړه کې له ښکېلېدو څان ساتي، خو د یو بل او بل سره به استخباراتي معلومات شریکوي. د دوی تر منځ ګډه همکاري د بېلتون غوښتونکو بلوڅو پر ضد ده. پاکستان او ایران دواړه د خپلواکو بلوڅانو له راپورته کېدو وېره لري. په دې وروستیو کې د ایران او پاکستان له خوا د یو بل په خاوره کې د ترسره شویو بریدونو هدف ازاد بلوڅان وو، چې له پرله پسې تاوتریخوالي سره مخ دي.

داسې ښکاري چې اوسنی تړون به د همدې باور پر بنسټ وي. د دې ترڅنګ په سیمه کې بل لوی ګواښ د داعش وسله واله ډله ده چې په ایران او پاکستان کې یې د ځینو بریدونو مسوولیت منلی دی. ایران پر پاکستان ځکه شک لري چې د جیش العدل په څېر وسله والې ډلې شته چې کله ناکله په ایران کې د بریدونو مسوولیت په غاړه اخلي. خو نن ورځ پاکستان د خپلې خاورې د امنیت په ساتلو کې پاتې راغلی او په سیمه کې د تاوتریخوالي پېره پر افغانستان اچوي چې پخپله د ترهګرۍ قرباني دی. دواړه هېوادونه غواړي چې په سیمه کې داسې ګډې همکارۍ رامنځته کړي چې نه بېلتون غوښتونکي جریانونه د دوی لپاره ګواښ شي او نه هم سیمه ییز او نړیوال استخبارات د دوی پر ضد کار واخلي.

بلوڅان د ایران په سیستان کې له سخت اقتصادي بحران سره مخ دي او د ایران حکومت له پامه غورځولي دي. پاکستان هم بلوڅ بېلتون غوښتونکي وژني او په زندانونو کې یې شکنجه کوي. د پاکستان بلوڅان د خپلې مبارزې لپاره


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پر پاکستاني پوځيانو د ځينو بريدونو مسووليت پر غاړه اخلي، خو په ايران کې بلوڅان تر اوسه د ايراني ځواکونو په نښه کولو له داسې ګوابښ سره نه دي مخامخ شوي، خو ښايي په راتلونکي کې يو ګوابښ شي چې ايران يې جدي اندېښمن کړی . پاکستان او ايران تر دې وړاندې هم پر داسې يوې هوکړې کار پيل کړی و، چې اوس د ابراهيم رييسي په ورتګ سره دا موافقه نهايي شوه.

د ۲۰۲۳ کال په جولای مياشت کې د پاکستان د پوځ مشر عاصم منير تهران ته تللی و او هلته يې له ترهګرۍ سره پر ګډې مبارزې خبرې کړې وې. په دې مبارزه کې دفاعي او امنيتي همکاري شامله وه, چې د دواړو هيوادونو ترمنځ پولو ته امنيت راولي. د ترهګرۍ پر ضد په دغه دوه اړخيزه تړون کې ايران او پاکستان چې پرې موافقه کړې، دا هم شامله ده چې د بېلتون غوښتونکو ترمنځ اړيکي به بې باوره ساتي او هڅه به کوي چې د بلوڅ بېلتون غوښتونکو د ښو اړيکو مخه ونيسي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ